مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۰/۰۹/۲۷

# سوله، د سولې دولونه او سوله په اديانو کې

## (اتمه برخه)

### سوله په يهوديت کې (۲)
### د اسراييلو خپل منځي سوله:

يهودان په خپل منځ کې کلونه، کلونه جګړيدلي دي، يو بل يي وژلي او لوټ کړي او له نورو هېوادونو يي د يو او بل پر وړاندې مرستې غوښتې دي، يهودان په خپله منځ کې لکه چې وړاندې وويل شول، يعقوب (اسراييل) او عيسو دوه غبرګوني ورونه د خپلې مور په خېټه کې هم، په جګړه وو. (پيدايښت: ۲۵ باب ۲۲-۲۶ آيتونه)
د سليمان له مرګه وروسته د يهودانو ترمنځ ډېر اختلافات راغلل، ډېرې جګړې يي وکړې چې په پای کې په دوو جلا، جلا (شمالي او جنوبي) حکومتونو باندې وويشل شول، شمالي حکومت د (اسراييل په نوم رامنځ ته شو چې پلازمينه يي سامره وه او جنوبي حکومت چې يهودا نوميده، پلازمينه يي اورشليم ؤ. (لرغونی عهد: دويم تواريخ؛ د ارميا کتاب)
د يهودو په ديني کتابونو کې د خپل منځي اړيکو په تړاو داسې ښوونې شوې دي چې د خپلو يهودي ګاونډيانو او خپلې کورنۍ سره ښه سلوک او په سوله کې ژوند وکړي او تينګار شوی دی چې له خپلو يهودي ګاونډيانو څخه غچ وانه خلي، جګړه ورسره نه کړي، د هغه ښځې، خاروي او نورو څيزونو ته په تمه نه وي، پور وروبښي، لکه د ځان غوندې خواخوږي ورسره ولري او داسې نورې ډېرې ښوونې راغلي دي چې په اړه يي وايي:
«د مور او پلار عزت کوئ، نو تاسي به په هغه وطن [فلسطين] کې اوږد عمر تېر کړی چې درکوم يې. قتل مه کوئ. زنا مه کوئ. غلا مه کوئ. د چا پر وړاندې د دروغو شاهدي مه وايې. د خپل ګاونډي د کور، ښځې، غلامانو، خارويو، خرونو او نورو څيزونو تمه مه کوئ.» (هجرت: ۲۰باب، ۱۲تر۱۷پوري)
(۱) بيا يهوه خدای موسی ته وويل:(۲) د بني اسراييلو قوم ته وواېه! سپيڅلي اوسئ ځکه چې زه يهوه ستاسو خدای سپيڅلی يم.
(۱۱) غلا مه کوئ، دروغ مه وايئ، يو بل مه غولوئ.
(۱۳) خپل ګاونډی مه دوکه کوئ، له هغه څخه غلا مه کوئ، د مزدور مزدوري تر سبا پورې مه ځنډوئ.
(۱۴) کوڼ ته ښېرې [کنځل] مه کوئ، د ړانده پر وړاندې داسې څه مه ږدئ چې هغه پرې او غورځيږي ... .
(۱۵) د عدالت په پريکړو کې بې انصافي مه کوئ چې د يو غريب پلوي وکړئ يا د يو مالدار کس څخه ووېرېږئ، له خپل ګاونډي سره انصاف کوئ.
(۱۶) د چا په اړه دروغ مه خپروئ، کله چې د چا د ژوند په اړه پريکړه کيږي که هغه ستاسو د شهادت په وجه بچ کيدی شي نو شهادت ورکړئ، زه يهوه خدای يم.
(۱۷) د نورو [اسراييلو] په اړه په زړه کې کينه مه ساتئ، له هغو سره خپل اختلافات پای ته ورسوئ تر څو د هغوی له امله ګناه کوونکي نه شئ.
(۱۸) له هيچا څخه غچ مه اخلئ، د چا سره په زړه کې کينه مه ساتئ، د خپل ګاونډي سره هغه شان مينه کوئ څومره چې له خپل ځان سره مينه کوی، زه يهوه خدای يم. (لاويان: ۱۹ باب،۱ تر ۱۸ آيت پوري)
او د پيدايښت په کتاب کې وايي چې يوسف خپلو ورونو باندې تينګار کوي چې په خپل منځ کې جګړه ونه کړي. (۴۵ باب، ۲۴)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا ډول د سود او پورونو په تړاو وايي چي په خپل منځ کي اسراييلو ته دي پورونه وبښل شي خو له غيرې اسراييلو څخه سود واخلئ:«د هر اووم کال په پای کي پورونه ببښئ، دا هغه څه دي چي تاسو به يي هرومرو کوئ. هر چا چي خپلو اسراييلو ته پور ورکړی وي نو هغه به ورته ببښي، هغه د خپل ګاونډي يا د خپل خپلوان څخه دا پور نه اخلي، يهوه خدای په خپله دا ويلي دي چي پور وبښل شو، خو که په يو مسافر [غيری يهودي] باندي ستاسو پور وي خپل پور اخيستی شی، خو که په اسرييل باندې پور وي نو له هغوی به يې نه اخلئ.» (تثنيه: ۱۵باب، ۳-۲-۱)

«کله چي خپل اسراييلي ورور ته پيسي، خواړه يا بل څه پور ورکړی، له هغه څخه ګټه (سود) مه اخلئ. خو له غيری يهودي څخه کولی شی سود واخلئ خو له يو اسراييلي څخه نه.» (تثنيه: ۲۳، ۱۹- ۲۰)

«د خدای لعنت دي وي پر هغه کس چي: د مور او پلار بې عزتي کوي... د ګاونډي د ځمکي د بريد پوله خوځوي... په پټه وژل کوي... د يو بی ګناه کس په وژلو باندې پيسي اخلي، نو ټول قوم به په ځواب کي ووايي: آمين.» (تثنيه: ۲۷باب، ۱۶تر۲۵ پورې)

«د خپل ګاونډي د ځمکي د بريد تيږه مه ښوروئ ... .» (تثنيه: ۱۹باب، ۱)

د يادولو ده چي اسراييل د خپلو اسراييلي ګاونډيانو برعکس له غيرې اسراييلي ګاونډيانو سره خيانت او غداري روا عمل بولي، هغه مهال چي اسراييل له مصر څخه په تېښته کي وو نو د دوی ځانګړي خدای يهوه موسی ته وويل چي اسراييلو ته ووايي له خپلو مصري ګاونډيانو څخه د لنډ وخت له پاره ګاڼي وغواړي او له ځان سره يي وتښتوي وايي:«خلکو ته ووايه چي هر يو سړی او هره ښځه دي له خپلو، خپلو ګاونډيانو څخه د سرو او سپينو زرو ګاڼي وغواړي.» (هجرت: ۱۱باب، ۲)

د اسراييلو تر منځ د سولي او سوکالی په اړه موسی ته لس حکمونه چي د سينا په غره کي د اسراييلو ځانګړي خدای يهوه له خوا په ځلوېښتو ورځو کي ورکړل شوي وو د اسراييلو د قوم له پاره ديني او اخلاقي ښووني دي چي له بت پرستی څخه اسراييل په کلکه منع شوي دي او ټينګار شوی دی چي قتل، زنا، غلا او نورې ناوړه کړني ترسره نه کړي خو کله چي موسی په غره کي ؤ د غره لاندې د اسراييلو قوم د عبادت له پاره د يهوه خدای بت، د خوسي په بڼه له سرو زرو څخه جوړ کړ، د دوی دغه عمل د دې سبب شو چي د اسراييلو په منځ کي د سولي فضا له منځه ولاړه شي، داسي چي موسی امر کوي هغه اسراييليان چي له ده سره ولاړ دي خپل بت پرسته ورونه او خپلوان دي ووژني، د موسی له لسو حکمونو څخه وروستي پنځه فرمانه په دې ډول دي:

لس حکمونه:

«... د مور او پلار درناوی کوئ ځکه چي دا د يهوه خدای امر دی، که داسي مو وکړل نو هغه ځمکه چي ستاسو خدای يهوه يي درکوي اوږد او له برکته ډک ژوند به وکړي.

قتل مه کوئ.

زنا مه کوئ.

درواغ مه وايی.

د نورو ناموس او مال ته تمه مه کوی.

د ګاونډي د غلام، مينځي، غوا، خره، ځمکي او مال د ترلاسه کولو په فکر کي مه کېږئ.» (هجرت: ۲۰باب ۵ تر ۲۱ آيت پورې)

«دا وو هغه قوانين چي خدای تاسو ته د سينا په غره کي درکړل، هغه دغه قوانين په لوړ غږ د اور او د توري وريځي له منځ څخه واورول، پرته له دې بل قانون يي نه دی ورکړی.» (تثنيه:۵ باب،۲۲)

«موسی د پنډ غالي د دروازې په څنګ کي ودريد، په لوړ غږ يي وويل: څوک چي د يهوه خدای پر لوري وي له ما سره دی، نو د لاويان ډله پر ده راغونده شوه. موسی وويل: خپلي توري واخلئ، د پنډ غالي له يوه سره تر بل سره پورې ولاړ شئ، هر يو کس دې خپل ورونه، خپل دوستان او خپل ګاونډيان ووژني. لاويانو د موسي خبره ومنله، نږدې درې زره کسان يي په هغه ورځ ووژل. موسی لاويانو ته وويل: نن تاسو ښکاره کړه چي د يهوه خدای د خدمت وړ ياست، سره له دې چي تاسو خپل زامن او ورونه ووژل، نو يهوه خدای به تاسو ته برکت درکړي.» (هجرت: ۳۲ باب، ۲۶تر ۲۹ پورې)

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ